مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سمیع الدین افغاني
۲۰۱۹/۰۴/۰۴

# د اشنا مینه

داسي چي مي مینه ده اشنا سره
نشته په خیالونو کي بل چا سره

زه یي تل په مینه باندې پایمه
هسي لکه ګل چي وي بورا سره

را به شي نګار ډیرو مدو نه پس
زړه په شي قرار د دلربا سره

مینه دې اشنا په زړګي ښه لګي
یم په فکر، هوش کې یاره تا سره

ژوند د پاکې مینې سره خوند کوي
نه د سالوسۍ نه د ریا سره

ما یي افغاني مینه احساس کړله
خوند یي کړي نازونه د آدا سره
-----------------------
سمیع الدین افغاني
۳ – ۴ – ۲۰۱۹
م ۰ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ